# فیلیمون ته د پولوس رسول لیک

د کتاب پېژندنه

په دې لیک کې پولوس رسول ټولو ایماندارانو ته په خپلو کې د فیلیمون او اونیسیموس د ورورولۍ د مثالونو او یو د بل څخه د خفګان په وخت کې هغوی ته د پخلاینې تعلیم ورکوي.

فیلیمون یو مشهور او نومیالي مسیحي ؤ او ښایي چې هغه د کولسیه په ښار کې د کلیسا غړی ؤ. هغه یو غلام درلود چې اونیسیموس نومېده. هغه د خپل بادار څخه تښتېدلی ؤ او داسې ویل کېدل چې د هغه ځینې شیان یې هم غلا کړي وو. په هغه وخت کې د روم د قوانینو له مخې د داسې کار سزا مرګ ؤ. بیا هغه په یو ډول د پولوس سره چې په هغه وخت کې په زندان کې ؤ، اړیکه ونیوله. اونیسیموس د پولوس په وسیله په عیسی مسیح باندې ایمان راوړ. پولوس د دې لیک په وسیله د فیلیمون څخه غوښتنه کوي چې د خپل تښتېدلي غلام سره چې پولوس یې بېرته ورلېږي، پخلا شي او هغه ته د یو بخښل شوي غلام په توګه نه بلکې د یو مسیحي ورور په توګه هرکلی ووایي.

## د موضوعګانو لست:

سلامونه: ۱:۱–۳
د فیلیمون مینه او ایمان: ۱:۴–۷
د اونیسیموس دپاره د پولوس غوښتنه: ۱:۸–۲۲
وروستني سلامونه: ۱:۲۳–۲۵



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## سلامونه

(۱) دا لیک د پولوس له خوا چې د عیسی مسیح په خاطر زنداني دی او زمونږ د ورور تیموتاوس له خوا خپل ګران او د خدمت ملګري فیلیمون ته (۲) او خپلې خور اپفیې او ارخیپوس ته چې لکه د یو عسکر په شان زما همکار دی او ستاسو د کور کلیسا ته. (۳) زمونږ د پلار خدای او څښتن عیسی مسیح فضل او سلامتي دې وي په تاسو باندې.

## د فیلیمون مینه او ایمان

(۴) ای فیلیمونه، کله چې زه تا په خپلو دعاګانو کې یادوم نو تل د خپل خدای شکر کوم، (۵) ځکه چې زه ستا د مینې نه چې د خدای د ټولو خلکو سره یې لرې او په څښتن عیسی باندې د ایمان نه خبر یم. (۶) زما دعا دا ده چې ته خپل د ایمان شراکت داسې ښکاره کړې چې د دې سبب شي، ترڅو زمونږ پوهه د هغو برکتونو په اړه چې په مسیح کې یې لرو، زیاته شي. (۷) ای زما وروره، ماته ستا د مینې له امله ډېره خوشحالي او تسلي پیدا شوې ده، ځکه چې ستا له امله د خدای د خلکو زړونه قوي او تازه شوي دي.

## د فیلیمون نه د اونیسیموس په خاطر د پولوس غوښتنه

(۸) سره له دې چې زه په مسیح کې دا زړورتیا او جرات لرم چې تاته حکم وکړم چې هغه کار وکړه چې مناسب وي، (۹) خو زه د هغې مینې له امله چې تا سره یې لرم او زه پولوس د یو سپین‌ږیري سړي په توګه چې اوس د عیسی مسیح په خاطر زنداني یم، ستا نه د یو څه غوښتنه کوم.
(۱۰) زه د خپل زوی اونیسیموس له خوا چې د خپل بندیتوب په وخت کې د هغه روحاني پلار شوم، ستا نه غوښتنه کوم. (۱۱) هغه یو وخت ستا دپاره ګټور نه ؤ، خو اوس هم ستا او هم زما دپاره ګټور دی.

(۱۲) زه هغه تاته بېرته درلېږم چې زما د زړه سر دی. (۱۳) ما غوښتل چې هغه د خپل ځان سره وساتم، ترڅو تر هغه وخته پورې چې زه د زېرې په خاطر په زندان کې یم، هغه ستا په ځای زما



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدمت وکړي. (۱۴) خو ما ونه غوښتل چې ستا له غوښتنې نه پرته کوم کار وکړم، ترڅو ستا نېکي د مجبوريت له مخې نه بلکې ستا په رضا سره وي.

(۱۵) کېدای شي هغه د دې دپاره ستا نه د لږ وخت دپاره بېل شو چې هغه د تل دپاره ستا سره وي. (۱۶) خو هغه اوس نور د يو غلام په شان نه، بلکې د غلام نه ډېر لوړ دی، لکه د يو ګران ورور په شان. هغه چې دومره ماته ګران دی، نو څومره به تاته هم د غلام او هم په څښتن کې د يو ورور په توګه ګران وي.

(۱۷) نو که چېرې ته ما خپل شريک ګڼې، لکه څنګه چې ما منې، هغه هم ومنه. (۱۸) که چېرې هغه ستا سره کومه بدي کړې وي او يا ستا ورباندې کوم پور وي، نو هغه زما په حساب وليکه. (۱۹) زه پولوس دا درته په خپل لاس ليکم چې زه به دا هرڅه بېرته درکړم. زه دا نه وايم چې ته څومره زما پوروړی يې، حتی ستا ځان هم. (۲۰) ای وروره، د څښتن په خاطر ماته ګټه ورسوه او احسان وکړه او په مسيح کې زما زړه قوي او تازه کړه.

(۲۱) زه ستا په تابعداری باندې باور لرم، نو زه دا شيان تاته ليکم او په دې پوهېږم زه چې درڅخه څه غواړم، د هغې نه به زيات وکړې. (۲۲) بله دا چې زما دپاره يوه کوټه تياره کړه، ځکه زه هيله لرم چې خدای به ستاسو دعاګانې قبولې کړي او ما به بيا تاسو ته درولي.

وروستني سلامونه

(۲۳) ايفراس چې د عيسی مسيح په خاطر زما سره په زندان کې دی، تاته سلام وايي. (۲۴) همدارنګه مرقوس، ارسترخوس، ديماس او لوقا چې په دې خدمت کې زما ملګري دي، هم تاته سلام وايي. (۲۵) په تاسو ټولو باندې دې زمونږ د څښتن عيسی مسيح فضل وي.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.